<u>**مطبوعاتي اعلامیه**</u>

**د موریتانیا ولسمشر د اسلام پر وړاندې له صلیبي جګړې سره یوځای کېږي**



**(ژباړه)**

ویل کېږي چې د عبدالعزیز زوی محمد د لېسې د فراغت سند هم نه لري؛ خو د ملاتړو په دخالت یې، سره له دې چې د ښوونځي له متوسطه دورې هم نه و فارغ شوی، په نظامي پوهنتون کې شامل شو. نوموړی کله چې د ۲۰۰۸م د اګېست په ٦مه، د موریتانیا لومړني ولسمشر سیدي محمد د ولسمشرۍ د ګارد له امریته لرې کړ، نو د یوې پوځې کودتا په ترخ کې یې هغه له واکه راوپرځاوه. سره له دې چې د شیخ زوی ده ته د جنرالۍ رتبه ورکړې وه ـ چې د موریتانیا په اردو کې لوړه رتبه ده ـ دغه راز یې د ولسمشرۍ د کارکوونکو عمومي رهبري هم ورکړې وه؛ خو د قدرت حرص او پر هېواد او خلکو د حاکمیت یې اړ کړ، چې د شیخ زوی له قدرته وغورځوي.

نن چې دی غواړي د اساسي قانون په اصلاح سره، د درېیم ځل لپاره حاکمیت ته لار هواره کړي، نو د قدرت د فشار لپاره یې د افراطي اسلام پر وړاندې د جګړې په نقاب کې کار کوی او وایي: «د دین سیاسي کولو د یهودو تر دولت هم لویه ستونزه جوړه کړې ده  او وایي، چې عربي هېوادونه د سیاسي اسلام په وسیله ړنګ شوي؛ نه دې بعثیانو، ناصریانو او کمونیستانو په وسیله.» هغه په ټویټر کې وویل: «تر ټولو بد خلک هغه دي چې قدرت ته

د رسېدو لپاره له اسلام څخه ګټه اخلي. د موریتانیا خلک ښه پوهیږي چې اسلام یو دین دی، نه سیاسي حزب.»

یو متل دی چې وایي: زه یې راوغوښم او په تش ډاګ یې پرېښودم. دی ځانته اجازه ورکوي چې مقدسات تر پښو لاندې او قدرت ته د رسېدو لپاره وینه تویې کړي. له خپل ظالم حاکمیت څخه د صلیبیانو د ملاتړ د پام اړولو لپاره د اسلام پر وړاندې د کمپاین له لارې ښه دلیلونه پیداکوي. د همدې لپاره کله چې شیخ محمدالحسن الدیدیو د «نواکشوت» په یوه ښار کې د جمعې د ورځې د لمانځه په خطبه کې ځواب ورکړ او خپل دریځ یې اعلان کړ، نو د عبدالعزیز زوی د تکوین العلماء مرکز ـ چې یو علمي انستیتیوت و ـ او د شیخ الدیدیو لخوا اداره کېده، له دې پرته چې مخکې کوم خبر ورکړي، په دې پلمه وتاړه چې افراطي افکار خپروي.

په دې کار سره د عبدالعزیز زوی د اسلام او خپلو خلکو پر وړاندې له صلیبي جګړې او هغو ظالمو حکامو سره یو ځای شو، چې د الله سبحانه وتعالی او پیغمبر صلی الله علیه وسلم مخالفت کوي. موږ ده ته د الله سبحانه وتعالی د عذاب خبر ورکړ او د موریتانیا له مومنو او مخلصو خلکو غواړو چې د دې طاغوت قدرت ته د پای ټکي کېږدي. په یوه صحیح حدیث کې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت شوی، چې فرمایي:

**«إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوا الظَّالِمَ فَلَمْ يَأْخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ أَوْشَكَ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللَّه بِعِقَابٍ مِنْهُ»**

*ژباړه: هغه کسان چې د یوه ظالم ظلم ویني، هغه له ظلمه نه منع کوي، نو نږدې ده چې الله سبحانه وتعالی دوی ټول په عذاب مبتلا کړي.*

همد راز یې وفرمایل:

**«كَلَّا، وَاللَّه لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ، وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ، ولتَأْخُذُنَّ عَلَى يَدِ الظَّالِم، ولَتَأْطِرُنَّهُ عَلَى الْحَقِّ أَطْرًا، ولَتَقْصُرُنَّهُ عَلَى الْحَقِّ قَصْرًا، أَوْ لَيَضْرِبَنَّ اللَّه بقُلُوبِ بَعْضِكُمْ عَلَى بَعْضٍ، ثُمَّ لَيَلْعَنكُمْ كَمَا لَعَنَهُمْ»**

*ژباړه: په الله سبحانه وتعالی قسم چې تاسو به یا امر باالمعروف او نهی عن المنکر کوئ او د ظالم لاس به نیسئ، عدالت ته به یې رابولی یا به دا چې الله سبحانه وتعالی تاسو له یوبل سره په جګړه اچوي او د بني اسرایلو په څېر به لعنت درباندې وایي.*

یا الله! د ظلم د حاکمیت دوره دوامداره او استعمار یې زیات شو، نو هغوی چې زموږ د دین بیرغ پورته کوي او د حق پلوي دي ملاتړ یې وکړه او د باطل سربازان وځپه. دعا او رحمت دې وي پر رسول الله صلی الله علیه وسلم، چې ویې فرمایل:

**ثُمَّ تَكُونُ مُلْكاً جَبْرِيَّةً فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللهُ أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ ثُمَّ سَكَتَ...»**

*ژباړه: وروسته به ظالم حاکمېږي او تر هغه وخته به دوام کوي چې الله سبحانه وتعالی وغواړي او کله چې الله سبحانه وتعالی وغواړي لرې کوي يې، وروسته به د منهج په نبووت خلافت راشي او بيا غلی شو.*


**ډاکټر عثمان بخاش**

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر مشر**



**د صدور ګڼه:** AH/001 1440

**د ۱۴۴۰هق، د محرم ۱۷مه**

**د ۲۰۱۸م، د سپتمبر ۲۷مه**